د افغانستان اسلامي امارت
د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره
د تخنيکي چارو معاونيت
د لوګر ولايت د تخنيکي او مسلکي زده کړو آمريت
د لوګر ولايت د کانونو انستيتيوت
د صنعتي او مدني ودانيو د انجنيري څانګه

# د استوګنيزو ودانيو لپاره ځای غوره کونه

# (Site Selection of Residential Buildings)




ليکونکی: مسلک فهم ډيپلوم انجنير مجيب الرحمن "ستانکزی"

کال ۱۴۴۴ ل.س


بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

د هغه ښښتن په سپېڅلي نامه پیل کوم چې انسان ته یې د قلم په واسطه پوهه ورکړه او په هغه څه و پوهاوه چې نه پوهېده.

لکه څرنګه چې زمونږ ډېری هېوادوال حتی پیاوړي او تکړه انجنیران پرته له دې چې د استوګنیزې ودانۍ  وروستني عواقب او پایلې په پوره دقت او غور مطالعه کړي، په نامناسبو ځاینو کې استوګنیز کورونه طرح کوي او جوړوي یې. هغه کورونه چې د مهندسي له نظره په نامناسبو ځایونو کې جوړیږي،  که څه هم ډېر په زړه پورې منهدسي پلانونه ولري او د ډیزاین له نظره هم د ټولو احتمالي بارونو په وړاندې مقاوم او محکم جوړ شي خو استوګن یې بیا هم د ارام او سکون احساس نکوي.

لکه څرنګه چې هر انسان دا خوښوي چې په خپل کور کې د راحتي او سکون احساس وکړي او په یوښه او ارام چاپېریال کې ژوند او کار وکړي نو باید د خپلې استوګنې په موخه خپل کور په داسې ځای کې جوړ کړي چې ښه خوندي امنیت او ښه دورنما ولري او له هر ډول غږ او شور څخه په امن وي او د دې تر څنګ په ژمي کې یې داخلي اماکن دورځې په ډېرو ساعتونو کې لمر ولري او په دوبي کې د طبیعي هوا د بهیر څخه هم برخمن وي. خو دا ټول فکتورونه تر ډېره په هغه سیمه او ځای پورې تړاو لري چې استوګنیز کور پکې جوړیږي.

نو ځکه مې مناسبه وګڼله چې پدې مقاله کې د استوګنیره ودانیو لپاره د ځای د غوراوي او ټاکنې آپشنونه په غور سره وڅېړم.

پدې مقاله کې مې د استوګنیزو ودانیو د جوړولو لپاره د ځآی د ټاکنې او غوراوي په اړه له معتبرو منابعو څخه په ګټه اخیستنې سره ګټور او په زړه پورې معلومات راټول کړي دي. هیله لرم  چې د انجنیري پوهنځي د زده کړیالانو او انجنیرانو لپاره ګټور او اغېزمن ثابت شي.

په درنښت

مجیب الرحمن "ستانکزی"

# لړلیک


| عنوان | مخ |
|---|---|
| عمومیات | 1 |
| د استوگنیزه ودانیو لپاره ځای غوره کونه | 2 |
| ۱. مقدمه | 2 |
| ۲. توپوگرافي | 2 |
| ۲-۱. هموراه ځمکه | 2 |
| ۲-۲. مایله ځمکه | 3 |
| ۲-۳. لوړه او ژوره یا دڅپو په بڼه ځمکه | 6 |
| ۲-۴. لوره او ژوره ساحه | 6 |
| ۳. د خاورې طبیعي حالت | 6 |
| ۳-۱. ډبرینه خاوره | 7 |
| ۳-۲. جغل | 7 |
| ۳-۳. شگلنه خاوره | 7 |
| ۳-۴. کلې یا خټینه خاوره | 7 |
| ۳-۵. هارډپین خاوره | 8 |
| ۳-۶. د ریښو خاوره | 8 |
| ۳-۷. جوړه شوې یا بیا ډکه شوې خاوره | 8 |
| ۴. له ځمکې لاندې اوبوسطح | 9 |
| ۴-۱. د اوبو نفوذ | 9 |
| ۵. اسانتیاوې | 9 |
| ۶. گاونډیتوب | 10 |
| ۷. هغه شیان چې باید ورسره نږدې نه وي | 10 |
| ۸. شین والی | 11 |
| ۹. د ساحې بڼه | 11 |
| ۱۰. د موادو اومزدورانو پیدا کېدل | 12 |
| ۱۱. د بحرو له غاړو سره نږدې والی | 12 |
| پایله اخیستنه | 13 |
| سرچینې | 14 |

# عمومیات

لــه هــوا، اوبــو، خــوړو او جــامو وروســته تــر ټولــو اړیــن تــوکی چــې انســان ورتــه اړتیــا لــري ســرپناه ده. دا پــه داســې حــال کــې ده چــې لومړنیــو انســانانو بــه دغرونــو پــه غــارونواو د ونــو پــه ډډونــو کــې ژونــد کــاوه بیــا وروســته چــې انســان د تمــدن پــه لــوري وخوځېده، د کورونو او ودانیو په جوړولو یې پیل وکړ.

اســتوګنیزه ودانــۍ هغــه ودانــۍ ده چــې خلــک پکــې دلنــډ او اوږد مهــال لپــاره اوســیږي دا هغــه ځــای دی چــې اســتوګن پــه کــې خپلــې بېلابېلــې کړنــې لکــه خــوراک، اســتراحت، خــوب، ځــان پــاکول او مینځــل او نــورې ورځنــۍ چــارې مــخ تــه وړلــی شــي او پــه دې ســربېره کــور هغــه ځــای دی چــې خپــل اســتوګن لــه اقلیمــی شــرایطو لکــه بــاد، باران، لمر او نورو هم ساتي.

لــه دې پرتــه کــور هواتــه بــدلون ورکــوي او شــرایط پــه کــابو کــې ســاتي لکــه آواز د هواســـړېدل او ګرمېــدل، د دې ترڅنــګ کــور هغــه ځــای دی چــې خپلــو اســتوګنو تــه د پردې او محرمیت زمینه برابروي.

لکــه څرنګــه چــې هــر انســان دا خوښــوي چــې پــه خپــل کــور کــې د راحتــي او ســکون احســاس وکــړي او پــه یوښــه او ارام چاپېریــال کــې ژونــد او کــار وکــړي نــو بایــد د خپلــې اســتوګنې پــه موخــه خپــل کــور پــه داســې ځــای کــې جــوړ کــړي چــې ښــه خونــدي امنیــت او ښــه دورنمــا ولــري او لــه هــر ډول غــږ او شــور څخــه پــه امــن وي او د دې تــر څنــګ پــه ژمــي کــې یــې داخلــي امــاکن دورځــې پــه ډېــرو ســاعتونو کــې لمــر ولــري او پــه دوبــي کــې د طبیعــي هــوا د بهیــر څخــه هــم بــرخمن وي. خــو دا ټــول فکتورونــه تــر ډېــره پــه هغــه ســیمه او ځــای پــورې تــړاو لــري چــې اســتوګنیز کــور پکــې جــوړیږي. چــې همــدا موضــوع (<u>د اســتوګنیزو ودانیــو لپــاره ځــای غــوره کونــه</u>) د دې مقــالې اصــلي موخــه او هدف دی او په راتلونکو عناوینو کې وربانديې مفصل بحث شوی دی.

# د استوګنيزه ودانيو لپاره ځای غوره کونه

# (Site Selection of Residential Build)

## ۱. مقدمه

هر انسان دا خوښوي چې په يوښه او ارام چاپيريال کې ژوند او کار وکړي. استوګنيزه ودانۍ بايد په داسې ځای کې جوړه کړل شي چې هغه ځای ښه امنيت، ښه دورنما ولري د دې تر څنګ دورځې په ډېرو ساعتونو کې لمر ولري او هم د طبيعي هوا د جريان په وړاندې خنډ شتون و نه لري که چېرې د ودانۍ د جوړېدو لپاره له يوه څخه زيات ځايونه شتون ولري د غوراوي لپاره يې بايد لاندې فکتورونه په ژوره توګه مطالعه او وڅېړل شي

1. توپو ګرافي.
2. د خاورې طبيعي حالت.
3. د ځمکي لاندې اوبو تېبل.
4. اسانتياوې.
5. ګاونډيتوب.
6. ځينې شيان چې بايد هلته شتون و لري.
7. شينوالی.
8. د ساحې بڼه.
9. د مزدور او موادو پيدا کېدل.
10. طبيعي منظرو لکه سيند اوجهيل ته نږديوالی.

## ۲. توپوګرافي:

### ۲-۱. هموراه ځمکه:

په هموار ه ځمکه کې نښې لګول، کیندنه او جوړونه اسانه وي لېول کولو ته هیڅ اړتیا نه لري خو ستونزه داده چې د فاصله اوبو د لېږد لپاره اړتیا پیدا کیږي، چې د اوبو ډنډ جوړ کړای شي، ډنډ جوړول په خپل وار د حشراتو د را ټولېدو لپاره زمینه برابروي چې دا د بېلابېلو ناروغیو د خپرېدو لامل ګرځي.

## ۲-۲. مایله ځمکه:

د کور د فاضله اوبو د ایستلو لپاره باید لږ تر لږه ۱٪ میلان شتون ولري د کور د چمن د اوبو ایستلو لپاره د ځمکې میلان باید تر ۲٪ کم نه وي کله چې د ځمکې میلان له ۵٪ څخه زیات وي په اسانه مالومېدای شي، د موټرو درولو ځای باید زیات میلان ونه لري. د ساختمان د ځمکې لپاره باید میلان له ۳۳،۵٪ څخه زیات نه شي هغه ځمکه چې له ۳۳،۵٪ زیات میلان ولري حتی یوازې چمن هم پرې نه شي جوړېدای دا په داسې حال کې ده چې د ۰٪ میلان لرونکي ځمکه هم ګټوره نه ده. د ساختمان لپاره تر ټولو ښه میلان هغه دی چې د٪(۱۰-۳) پورې وي کله چې د ځمکې میلان د ۱۰٪ او ۱۵٪ ترمنځ وي نو افقی قاعده باید برابره شي او یاهم ساختمان په دوو برخو جوړ شي یعنی په پټو ووېشل شي.



شکل (۱) د ودانی افقي قاعده

هغه ځمکه چې میلان یې د ۱۵٪ او ۳۰٪ تر منځ وي پر کیندنه باندې یې ډېر لګښت راځي.

ځرنګه چې داسې ځمکې د زیات باران پر مهال ډېرې رژیږي او تخریبیږي نو باید چې ورته استنادي دیوالونه په پام کې ونیول شي همدارنګه پر داسې ځمکو کې د موټرو درېدل هم ستونزمن وي که چېرې کور یا ساختمان په لوړ ځای کې وي او د ورننوتو لاره یې له

هغه ټيټ لوري نه پربښودل شي ښه ده په نسبت د هغه چې کور يا ساختمان په ټيټ ځای کې وي او د ور ننوتلو لاره يې له هغه لوري وي چې پرې جګ دی. يعني د ورننوتلو لاره بايد مخ پورته وي نه مخ په ځوړ. کله چې ودانۍ په ميلان لرونکې ځمکه باندې جوړيږي نو غوره خبره دا ده چې سړک د کور مخ ته وي داسې چې ودانۍ پورته او سړک ورجګ شوی وي.




شکل (۲) د ودانۍ ته د ننوتلو لار

**a) ساحه په جګه کې وي:**

په هغه حالاتو کې چې د ودانۍ ساحه په جګ ځای کې وي او سړک په ټيټه کې وي نو د فاصله اوبو او باران د لېږد لپاره کومه ستونزه نه پېښيږي خو په پام کې ولرو چې ميلان په منظم ډول وکارول شي.




شکل (۳) سړک له ساحې څخه ټیټ دی

**b) سړک په جګه کې وي:**

په داسې حالاتو کې کېدای شي د ځمکې پر مخ روانې اوبه ودانۍ ته ننوځي کومې چې دروغتیا ساتنې له پلوه خرابې اوبه وي او ګڼې روغتیایي ستونزې زېږوي د دې کار د مخنیوي لپاره باید د سړک په دواړو څنګونو کې د اوبو اېستلو لښتي جوړ شي.




شکل (۴) سړک له ساحې څخه هسک دی

### ۲-۳. لوړه او ژوره یا دځپو په بڼه ځمکه:

پـه داسـي ځمکـو بانـدي د سـاختمانونو جـوړول اسـانه کـاردی چـې د ځپـو پـه شـکل وي خـو بایـد لـومړی یـې لېـول وشـي ځینـې وخـت انشـعابي جـوړیږي (بېلابېلـې کـوټې بېلابېـل لېولونـه لـري حتـی کېـدای شـي یـو پـوړ پـه کنـده ځـای کـې جوړشـي) دا هغـه وخـت تـر سـره کیـږي کلـه چـې د ځمکې لوړې او ژورې پراخې او ژورې وي

### ۲-۴. لوړه او ژوره ساحه:

لـوړه او جګـه ډېـره ښـه معلـومیږي او ودانـۍ تـه ډېـره ښـکلا وربښـي او همـدا رنګـه ښـه نُمـا او دورنمـا ورکـوي لـه دې پرتـه پـه داسـي سـاحه کـې تـازه هـوا او لمـر زیـات وي د تهـداب او فاضله اوبو د لیږد ستونزه په کې نه وي.

تـر خپلـه وسـه بایـد لـه ژورې سـاحې ډډه وشـي پـه داسـي سـاحو کـې د ودانـۍ لپـاره د ځـای غـوره کـول، د مهندسـۍ او هـم د جـوړونې لـه پلـوه ناڅـاپي سـتونزې پیښـولای شـي، کـه چېـرې ورسره پـه چـم ګاونـډ کـې ودانـۍ پـه لـوړه وي یـا هـم خپلـه ودانـۍ لـوړه وي نـو د دې ودانـۍ د هـوا دوران بـه یـې لـه سـتونزو ډک او هـم د ورځـې پـه ډېـرو سـاعتونو کـې بـه لمـر ونـه لـري. پـه ورتـه وخـت کـې د بـاران پـر مهـال ټـولي اوبـه همـدې سـاحې تـه راټـولیږي چـې دا پـه خپـل وار د حشـراتو لپـاره د اوسـېدو زمینـه برابـروي چـې ګڼـې نـاروغۍ تـرې پیدا کېـدای شـي. خـو کـه چېـرې دا سـاحې بیـا د سـیندونو، جهیلونـو او د اوبـو زېرمـو خواتـه نـږدې وي کېـدای شـي یـوه ښـه نمـا او پـه ګـرم موسم کې د ښه ارام کولو ځای شي.

### ۳. د فرعي خاورې طبیعي حالت:

همېشـنۍ(دایمي) ودانـۍ بایـد پـه هغـه خـاوره کـې جـوړه شـي چـې د زغـم وړتیـایي زیاتـه وي هغـه خـاوره چـې لـه ځمکـې لانـدې واقـع وي Sub-soil یـا فرعـی خـاوره بلـل کیـږي یـاده خـاوره بایـد پـه هـر ژوروالـي کـې د زغـم معقولـه وړتیـا ولـري او کـه داسـې نـه وي پـه تهـداب ډېـر لګښـت راځي.

### ۳-۱. ډبرینه خاوره (Rocky soil):

دا خاوره تر ټولو ښه د زغم وړتیا لري په داسې ځای کې د تهداب پر کیندنه ډېر لګښت راځي خو کېدای شي له تهدابه اېستل شوې تیږه د احاطوي دیوالونو په جوړونه کې وکارول شي، د داسې ځمکې نیمګړ تیا داده چې په داسې ځای کې ورسره د خاورې طبقه نه وي نباتات نه کرل کیږي وده نه شي کولای او د دې تر څنګ داسې ځمکه د ورځې له مخې ډېر لمر جذبوی او د شپې له مخې هغه اخیستل شوې تودوخه بېرته پرېږدي چې دا په خپل وار د ودانۍ او اوسېدو لپاره ستونزې زېږوي.

### ۳-۲. جغل (Cravel):

له ډبرو وروسته جغل راځي چې د زغم او غیر قابل نفوذ والي ښه وړتیا لري. په جغل کې د تهداب کیندنه ستونزمنه نه وي په داسې حال کې چې په ډبرو کې نشست یا کېناستنه صفر ده خو په جغل کې تریوې لړې کچې شتون لري.

### ۳-۳. شګلنه خاوره (Sandy Soil):

څرنګه چې شګلنه خاوره نه کېناستنه لرې نه هم انبساط نو ځکه د ساختمان لپاره ډېره غوره کیږي.

### ۳-۴. کلې یا خټینه خاوره (Clay Soil):

دا په اصل کې د بېلا بېلو خاورو له نښتو او یو ځای کېدو څخه لاس ته راغلې خاوره ده، داسې خاوره غیر منظم نشست لري کله چې د بار لاندې راشي. د اوړي په موسم کې خپلې اوبه له لاسه ورکوي او انقباض کوي په باراني موسم کې اوبه جذبوی ا و پړسېږي له همدې امله ورته پړسېدونکي یا پراخېدونکي خاوره هم ویل کیږي. حتی هماغه یوه کلې خاوره کېدای شي په بېلا بېلو حالاتو کې له ځانه بېل بېل خاصیتونه وښیي. نو که په داسې خاوره باندې ساختمان جوړ شي غیر منظم نشست یا کېناستنه په کې پیدا کیږي او په دیوالونو کې د عمودي درزونو د پیداکېدو لامل ګرځي.

### ۵.۳. هارډپین خاوره (Hard Pan Soil):

دا هغه خاوره ده چې تر 1m پورې یې کلې یا ختینه خاوره وي او وړاندې یې ډبرې وي په سر باندې ډېر ښکلي نباتات زرغونیږي او له 1m وروسته ډېر ښه تهداب ورکوي.

### ۶.۳. د ریښو خاوره:

چې پرېمانه سکاره او عضوي مواد لري دا ډول خاوره د ساختمان د جوړېدو لپاره هېڅ مناسبه نه ده ځکه چې له یوې خوا پکې کیندنه ګرانه وي او له بلې خوا کله چې پرې بار راشي غیر منظم نشست لري.

### ۷.۳. جوړه شوې یا بیا ډکه شوې خاوره:

کله چې طبیعي ټیټ ځایونه او یاهم د انسان په واسطه کیندل شوي ځای بېرته له فاضله موادو، ایرو او نورو کمزورو موادو په واسطه ډک شي بیا ډکه شوې خاوره یا (Reclained) بلل کیږي، ځینې مهال دا کندې تر طبیعي سطحې پوره ډکې شوې وي. پر داسې خاوره باندې ودانۍ جوړول هېڅ د منلو وړ نه دي ځکه چې:

I. د زغم وړتیا یې هم کمزورې ده او هم یو شان نه ده.

II. په فاضله موادو کې کېدای شي ځینې فعال کیمیاوي مواد شتون ولري چې د ودانۍ له جوړېدو سره د ودانۍ له ساختماني موادو سره د کیمیاوي تعامل د منځته راتلو لامل کېدای شي. په داسې ساحو کې د تهداب پر جوړولو ډېر لګښت راځي چې کېدای شي آن د ټولې ودانۍ تر ۲۰٪ ورسیږي.

III. په داسې ساحو کې د ځمکې لاندې اوبه ډېرې چټلې وي چې کېدای شي د کورنۍ موخو لپاره هېڅ ونه کارول شي. ډبرې، جغل او شګلنه خاوره وچه خاوره Dry Soil بلل کیږي کوم چې لوړه تودوخه او ټیټه نمي لري. کلې خاوره لنده خاوره بلل کیږي چې ټیټه تودوخه او لوړه نمی لري.

## ۴. له ځمکې لاندې اوبوسطح :Position of Ground Water Table

اوبــه د هــر ډول ژوي د ژونــدي پــاتې کېــدو لپــاره او د هــر ډول ودانــۍ د جوړېــدو لپــاره تــر ټولـو اړيـن عنصـر دی؛ نـو کلـه چې پـه يـوه سـاحه کـې ښـاه کينـدل کيـږي د ښـلو وړ اوبـه بايد پـه يومناسـب ژوروالـي کـې شـتون ولـري. لـه ځمکـې لانـدې اوبـه بايـد ډېـرې ژورې نـه وي ځکـه کـه داسـې وي نـو را ايسـتل بـه يـې ډېـر زور وغـواړي؛ خـو لـه بلـه څنګـه کـه چېرې لـه ځمکـې لانـدې اوبـه د ځمکـې سـطحې تـه نـږدې وي نـو هغـه بيـا د هغـه خـاورې د زغـم وړتيـا کمـوي، چـې دا بيـا د غيـر مـنظم نشسـت او جـوړې شـوې ودانـۍ د لنـدبل لامـل ګرځـي. د ځمکـې لانـدې اوبـو ټېبـل تـه (GWT) هـم ويـل کيـږي. کلـه چــې GWT لــه 1m ژور او لــه 3m کــم وي بايــد چــې ســطحې تهداب پـه پـام کـې ونيـول شـي. کـه چېرې ژور تهداب پـه پـام کـې ونيـول شـي نـو د تهداب د اوبـو ايسـتلو لپـاره بايـد سيسـتم هـم ورسـره جوړشـي. کـه چېـرې GWT لـه 1m کـم وي نـو سـطحې تهداب دې ورتـه پـه پـام کـې ونيـول شـي خـو پـه دې شـرط چـې د اسـاس ژور والـی لـه 0.9 m څخه کم نه وي.

### ۴-۱. د اوبو نفوذ :

هغـه خـاوره چـې نفـوذ يـې پـه 50 ثـانيوکې 1mm وي يعنـي 50s/mm نفـوذ ولـري نـو دسپټک لپـاره مناسب ځـای ګڼـل کيـږي. هغـه خـاوره چـې پـه 180 ثـانيو 1mm نفوذ ولـري دا پـه دې معنــی دی چــې ډېــر کــم ســوري لــري او ښــه خــاوره نــده. او کــه چېــرې 2s/mm يعنــي پــه دوو ثـانيو کـې 1mm نفوذ ولـري نـو دا ډېـره کمـزورې او تېـزې خـاوره ده د سـپټک جـوړول پکـې ښـه نه دي.

### ۵. اسانتياوې:

I. ټولنيز خدمتونه لکه د کوڅو پاکول، اوروژنه، پوليس.

II.عامه خدمات لکه اوبه رسول، ګاز، برېښنا، د فاضله اوبو ايستلو سيستم.

III.ټلفون، ښوونځی، روغتون، جومات.

IV. ترانسپورتی سیستم لکه ښاري بسونه، د اورګاډي سټېشن چې ساحې ته نږدې وي پرته له اضافي لګښت څخه.

### ۶. ګاونډیتوب:

زمونږ د ژوند چاپېریال زمونږ د ګاونډیتوب په واسطه کنترولیږي په تجارتي او سوداګریزه سیمه کې د استوګنیزه ودانیو جوړول مناسب نه دي کله چې استوګنیزه ودانۍ پلانیږي نو د هماغه سیمې او منطقې اقتصادي حالت باید په پام کې ونیول شي. د خوشحاله ژوند تېرولو لپاره ښه ګاونډیتوب اړین فکتور دی وایي: ( هېڅکله کوچني ماهي مه اوسه په یو لوي ډنډ کې) کله چې د یوې کمزورې اقتصاد لرونکې کورنۍ په یوه شتمنه سیمه کې استوګنیزه ودانۍ جوړه کړي هغه خپل شخصیت، محرمیت، ارام او په ژوند کنترول له لاسه ورکوي. ښه خبره داده چې د یو ډول اقتصاد لرونکي خلک په یوه سیمه کې ژوند وکړي.

ملنګ جان وایي:

ناستې د هغو کړه ملنګ جانه                    چې دې سم وي په ګنډه ورسره زور

### ۷. هغه شیان چې باید ورسره نږدې نه وي.

I. تیاترونه اونور هغه ځایونه چې جګ اواز تولیدوی، ځکه موږ نه شو کولای پر داسې ځایونو کنترول ولرو.

II. کارخاني، د فاضله اوبو د راټولېدو ځای، د فاضله موادو د غورځولو ځای، ترافیکی مزدحم ځایونه، ځکه په داسې ځایونو کې هوا ککړه، له ګرده ډکه وي په داسې ځایونو کې فلزات زر زنګ وهي.

III. د څارویو د حلالولو ځای.

IV. د ښنتو او چوني بټۍ کوم چې له ځانه زیات ګرد او تودوخه لري.

V. هغه ځایونه چېرته چې د اواز، ګرد او چاودنو مسلسلي سر چینې شتون ولري.

IV. بوختې لویې لارې او د اورګاډو لارې.

VIV. ګنده ډنډونـه او د فاضلـه اوبـو د لېږدونـې لښـتې کـوم چـې د نـورو اسـتوګنیزو سـیمو او کارخانو اوبه لېږدوی ککړې ځمکنۍ اوبه ولري.

## ۸. شین والی:

د ښـارې، وچـې او بربنـدې ځمکـې پـه پرتلـه هغـه ځمکـه غـوره ده چـې ښـنې ونـې، نباتـات او بـوټي ولـري. مېـوه لرونکـې ونـې کـولای شـي سـاحه خوشـحالوونکي کـړي پـه همـدې توګـه د ښـنو ونـو او بوټـو شـتون کـولای شـي هـوا پاکـه کـړي د ګـرد او غبـار مخنيـوي وکـړي او هـم د انسـانانو د تـنفس لپـاره پريمانـه اکسـيجن توليـد او کـاربن ډای اکسـايډ جـذب کـړي او اتموسـفير تصـفيه کـړي؛ خـو پـه ورتـه وخـت کـې بايـد لـه داسـې ونـو کرلـو څخـه ډډه وشـي چـې ريښـې يـې د ودانيـو تهـدابونو تـه غزېـږي لکـه: تـوت، انځـر او ځينـې نـور ځکـه د دې لـه املـه تهدابونـه مـاتيږي او د ودانـۍ د نړېدو لامل ګرځي.

## ۹. د ساحې بڼه:

يـوه غـوره سـاحه هغـه ده چـې مستطيلي شـکل ولـري داسـې چـې اوږدوالـی يـې د پلنـوالي پـه پرتلـه دوه ځلـې زيـات وي او هـم د سـاحې پلنـوالی د سـړک لـه اوږدو سـره مـوازي وي. د مثلثـی شـکل لـه غـوره کولـو دې ډډه وشـي غيـر مـنظم او نـری سـاحې تـه ډېـره کمـه رڼـا ورځـي او همدارنګـه د ګاونـډيو ودانيـو تـر اغېـزې لا نـدې راځـي، لـه دې پرتـه د داسـې سـاحو پلانـول لـه ګڼـو سـتونزو سـره مـخ وي. د سـاحې لـږ غيـر مـنظم والـی کـولای شـي ځينـې وخـت د ودانـۍ د ښـکلا اوښايسـت سـره مرسـته وکـړي خـو د سـاحې ډېـر تـاو او پـېچ والـی د ودانـۍ د احـاطوي ديـوال اوږدوالـی زيـاتوي او د پـلان جـوړونې لپـاره مـاهرو کسـانو او وخـت تـه اړتيـا لـري. د نـوش يـا کـنج کـور هـم پـه پلـن والـي او هـم پـه اوږدو سـړک تـه لار لـري څرنګـه چـې داسـې ودانـۍ دوه سـړکو تـه لار لـري نـو بايـد دواړو سـړکونو تـه ښـکلا ورکـونکي برخـې ورتـه ډيـزاين شـي همـدا لامل دی چې د کنج د کورونو لګښت زيات وي.

## ۱۰. د موادو اومزدورانو پیدا کېدل:

په ساحه کې باید د ښه کیفیت ساختماني مواد پیداشي لکه: تیږه، خښته، لرګي، سیخ، سیمنټ او دښه کیفیت اوبه. د دې تر څنګ هلته باید ښه ماهره ګلکاران، سیم تاوان، برقیان، نلدوانان او نور مزدوران پیدا کول اسانه وي.

## ۱۱. د بحرو له غاړو سره نږدې والی:

د جزیرو ښارګوټي، ښه آب هوا لري هغه ودانۍ چې ساحل ته ډېرې نږدې وي لاندې ګټې لري.

I. د لمر ختو، لمر پرېوتو او سپوږمۍ پر مهال ډېره ښه دورنما او ښکلا لري.

II. په اوړي کې یخې اوبه او ژمي کې نسبتاً ارامه ګرمه هوا لري.

خو له سواحلو سره نږدې د ودانیو جوړول لاندې زیانونه هم لري:

I. فلزات زنګ نیسي.

II. یو ډول ګرد او مالګین یخ رطوبت هم لري.

III. د زیات لنده بل له امله استوګن یې نارامه وي.

## پایله اخیستنه:

پـدې موضـوع کـې د مقـالي د لیکلـو پـه موخـه تـر یـولږ تحقیـق او مطـالعي وروسـته د پـایلو په ډول لاندې څو سپارښتنو ته اشاره کوم:

1. اسـتوګنیزه ودانـۍ بایـد پـه پـه ملایـم او نـرم مـیلان لرونکـي سـاحه کـې جـوړه شـي تـر څـو لـه یوې خـوا د ودانـۍ فاصـله اوبـه پـا اسانۍ سره لـه ودانـۍ څخـه بهـر ولېږدول شي او لـه بلـې خـوا ملایم میلان یوه زړه راښکونکې دورنما جوړه کړي.

2. تـر ډېـره کوښـښ وشـي چـې د چـې د خپـل کـور د جوړولـو لپـاره داسـې سـیمه غـوره شـي چـې ګاونـډیان یـې لـه هـره پلـوه سـیالان وي، کـه چېـرې یـو څـوک پـه داسـې ګاونـډ کـې اسـتوګنه غـوره کـړي چـې د ګاونـډیانو اقتصـادي وضـعیت لـه ده څخـه ښـکته او یـا پورتـه وي او یـا لـه هغـوی سـره فرهنګـي، مـذهبي ... ورتـه والـی ونـه لـري، نـو پـه داسـې ګاونـډ کـې ژونـد کـول څـه ناڅه ستونزمن وي.

3. یـوه اسـتوګنیزه ودانـۍ بایـد لـه ټولـو مزدحمـو او او غـږ لرونکـو ځـایونو څخـه پـه کـافي انـدازه واټـن ولـري تـر څـو پـه کـور کـې اسـتوګن وګـړي لـه هـر ډول شورماشـور او ګنـه ګـونې څخه په امن وي.

4. تعمیـرات پـه تېـره بیـا اسـتوګنیزې ودانـۍ بایـد د سـړک څخـه پـه ټـاکلي واټـن کـې جـوړه شـي تـر څولـه یـوې خـوا لـه ترافیکـي پېښـو څخـه مخنیـوي وشـي اولـه بلـه پلـوه د موټرونـو شـور ماشور د ودانۍ اوسېدونکو ته د مزاحمت لامل ونه ګرځي.

5. د ښـاري ځمکـې پـه پرتلـه هغـه ځمکـه غـوره ده چـې شـنې ونـې، نباتـات او بـوټي ولـري. د شـنو ونـو او بوټـو شـتون هـوا پـاکوي او د انسـانانو د تـنفس لپـاره پریمانـه اکسـیجن تولیـد او کاربن ډای اکسایډ جذبوي چې دا بیا په خپل وار د اتموسفیر د تصفیې سبب ګرځي.

6. یـوه اسـتوګنیزه ودانـۍ بـا یـد داسـې پـه مسـتریح ډول جـوړه شـي چـې د اوسـېدونکو هـر ډول غوښتنې پوره او همدارنګه اوسېدونکي پکې د ارامۍ او هوساینې احساس وکړي.

7. دا سـتونزمنه ده چـې پـه پورتـه ټولـو شـرایطو برابـر ځـای پیداشـي مګـر بیـا هـم بایـد هڅـه وشي د ځای د غوراوي پر مهال دا آپشنونه لږ تر لږه په پام کې ونیول شي.

## سرچيني:

1 . وردک. پوهنمل دیپلوم انجنیر عبدالحق. و گنیدوفسکی. دکتور د. و. مهندسی تعمیرات صنعتی و مدنی .1363. کابل. انستیتوت پولی تخنیک کابل.

2 .آرنست و پیتر نیوفرت. 2008. اطلاعات معماری. چاپ سوم. مکتب مهندسی پوهنتون آکسفورد بروکیس انگلستان. بلک ویل ساینس. مترجم – مهندس کورش محمودی.

3 .موسویان. آرشیتکت سید محمد رضا.1384. اصول و مبانی معماری، شهرسازی.تهران. انتشارات آذرخش. .2-81-6294-964 -IBSN